۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر آیندهٔ کشور است

# معارف
اوونیزه
هفته نامه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۴۱ ماه میزان سال ۱۳۹۷

سرمقاله:

## علم او پوهه د انسان د ژوند ښکلا ده

د انسان ارزښت په علم او پوهې سره زیاتیږي علم او پوهه هغه ګاڼه ده چې د انسان سره تر مرګ پورې یوځای وي او پوه انسان هیڅ وخت له ستونزو سره نه مخ کیږي که چیرې ورسره مخ هم شي نو په خپله پوهه او علمیت سره منطقی او معقوله دحل لاره ورته پیدا کوي . زموږ هیواد له تیرو څو لسیزو را پدیخوا له ګڼ شمیر ستونزو او ناخوالو سره مخ دی او دهغه اصلي لامل هم زموږ د هیوادوالو بیسوادي او د علم او پوهې څخه بې خبري ده .داچې د اسلام مقدس دین د علم زده کړه په هر مسلمان نارینه اوښځې باندې فرض ګرځولې ده لامل یې هم یواځې همدا خبره کیدای شي چې په سختیو او ستونزو کې ترې کار واخلي خپل دوست او دښمن تر بل هر چا ښه وپیژني، دعلم لاسته راوړل او په خپل حاصل شوي علم عمل کول د هغه انسان خصوصیت دی چې د علم ترڅنګ یې پرهیزګاري، تقوا، او انساني کرامت ته درنښت هم دخپلې لارې مشال ګرځولی وي علم او پوهه د انسان د ژوند ښکلا ده، علم هغه شتمني ده، چې ټول عمر د خپل مالك سره بې وفایي نه کوي او د ژوند په هر ستونزمن وخت کې یې پکاریږي. دغه شتمني، نه ورکیږي، نه تاوان کوي او نه یې څوك غلا کولای شي، خو اساسي خبره د علم سره عمل دی. هغه عالم او پوه انسان، چې د پوهې د درلودلو سره سره پر خپل علم عمل نه کوي، بې ګټې ګڼل کیږي . ځکه همدا عمل دی، چې د پوهې ارزښت په ټولنه کې زیاتوي او...

ص۲

## پیام وزارت معارف در رابطه به انتخابات پارلمانی کشور



نخست از همه اجازه دهید که سپری شدن موفقانه انتخابات پارلمانی ۱۳۹۷ کشور را به فرد فرد ملت بزرگ افغانستان تبریک و تهنیت عرض بگویم. این انتخابات نه تنها تمرین خوب دموکراسی و مردم سالاری در کشور عزیز ما بود؛ بلکه نمونهٔ بارز نیت و تعهد محکم مردم دلیر ما برای داشتن یک آیندهٔ بهتر، پارلمان خوب و تصمیم خودی نیز به حساب میاید.

وزارت معارف از ابتدا حامی این پروسهء ملی بوده، از راه های مختلف با کمیسیون محترم انتخابات همکاری نمود تا انتخابات همه شمول، شفاف و قابل قبول برگزار گردد. جا دارد که از تمامی منسوبان و معلمان معارف که در این راستا کمک و همکاری نموده نیز اظهار سپاس و تشکری نمایم.

در عین حال مانند هر پروسهء دیگر ملی ما، متاسفانه این انتخابات نیز از گزند تخریب و سبوتاژ در امان نماند. در دو روز انتخابات حملات مختلف انتحاری، بمب افگنی و حملات مستقیم بالای مراکز انتخاباتی صورت گرفت که اکثر این مراکز در مکاتب ما بوده است. من به نماینده گی از کاروان بزرگ معارف برای همه اعضای فامیل بزرگ معارف کشور که در این حملات جانهای شیرین شان را از دست داده اند از خداوند عزوجل جنت فردوس خواهان هستم و استدعا دارم که هرکدام این قربانیان را درجات عالیه عنایت فرمایند. برای تمامی کسانی که در این پروسه زخمی شده اند شفای عاجل از خداوند متعال خواهان هستم.

وزارت معارف افغانستان تمامی مکاتب دولتی را برای ...

ص۲

## د پوهنې وزارت د کارکوونکو او ښوونکو معاشونه د مبایل له لارې ورکول کیږي



## دکتر محمد میرویس بلخی با اعضای اتحادیه مکاتب خصوصی در کابل دیدار کرد



## هلمند کې ۲۰۰ ښځینه ښوونکې ګمارل کیږي



## ډاکټر محمد میرویس بلخي د آیسسکو په دیارلسم عمومي کنفرانس کې ګډون وکړ



د پوهنې وزارت سرپرست ښاغلي ډاکټر محمد میرویس بلخي د اسلامي هېوادونو د کلتوري سازمان (آیسسکو) په عمومي غونډه کې، چې په مراکش هېواد کې جوړه شوې وه، ګډون وکړ. دغه کنفرانس هر درې کاله وروسته جوړېږي او د مهمو موضوعاتو په ځانګړي ډول د اسلامي نړۍ د فرهنګي موضوعاتو په اړه پکې بحث او خبرې اترې کیږي.د سږني کنفرانس مهمه موضوع بیت المقدس او د هغه تاریخي او اسلامي ماهیت و، چې په دې وروستیو کې هلته د امریکا د سفارت د انتقال په اړه بحثونه راپارولي دي. د کنفرانس غړو په ځانګړي ډول د پوهنې سرپرست وزیر، چې د افغانستان په استازیتوب یې ګډون کړی و د بیت المقدس په تاریخي او اسلامي اهمیت ټینګار وکړ او هغه یې د اسلامي نړۍ یو له مهمو ویاړونو څخه وباله. ښاغلي بلخي په کنفرانس کې د وینا پر مهال د افغانستان د معارف د پرمختګونو او همدارنګه د ناامنیو او له هغو څخه پوهنې ته د متوجه خطرونو په اړه خبرې وکړې زیاته یې کړه: د اسلامي هېوادونو کنفرانس کولای شي د افغانستان له معارف سره په بېلابېلو اړخونو کې مرسته او همکاري وکړي. هغه دغه راز د اسلامي نړۍ د فرهنګی مرکز په توګه د غزني او د هېواد د نورو معنوي ارزښتونو یادونه وکړه ټینګار یې وکړ، چې افغانستان د اسلامي نړۍ مهمو معنوي شتمنیو ته په خپل ځان کې ځای ورکړی او له هغو ساتنه کوي.

د پوهنې سرپرست وزیر دغه راز د کنفرانس په څنډه کې د اندونیزیا د پوهنې له وزیر سره هم ولیدل او د دواړو هېوادونو د ښوونې او روزنې په برخه کې یې پر دوه اړخیزو همکاریو خبرې اترې وکړې.

د اسلامي هېوادونو د کلتوري سازمان (آیسسکو) کنفرانس چې د ۵۴ اسلامي هېوادونو د استازو په ګډون جوړېږي، ټاکل شوې درې کاله وروسته په اندونیزیا کې جوړ شي.

## از روز جهانی شستن دستها تجلیل به عمل آمد

وزارت معارف روز جهانی شستن دستها را زیر شعار "دستهای پاک کلید صحت است" با همکاری وزارت های صحت عامه و انکشاف دهات، مؤسسه یونیسف و دیگر نهادهای همکار در لیسه ملکه ثریا شهر کابل تجلیل نمود. این روز همه ساله بمنظور جلوگیری از امراض مهلک ساری و حفظ الصحه در نقاط مختلف جهان تجلیل میشود.داکتر محمد ابراهیم شینواری معین تعلیمات عمومی وزارت معارف شستن دستها با صابون را در جلوگیری از امراض خطرناک ساری، حفظ الصحه و بهبود وضعیت اقتصادی خانواده ها مهم دانسته تأکید کرد که این کلتور را باید در مکاتب کشور رایج و از این طریق به تمام مردم رساند. آقای شینواری گفت:" همه ساله در نقاط مختلف جهان ۷،۱ میلیارد انسان به مرض اسهال مصاب میگردد و ۳،۵ میلیون طفل از همین رو زندگی خود را از دست میدهند، لذا در تمام جهان به شستن دستها با صابون اهمیت داده میشود و این عمل میتواند از ۷۵٪ امراض ساری جلوگیری نماید." معین تعلیمات عمومی اضافه نمود، ضرور است که مکاتب کشور به مراکز تغییر شستن دستها مبدل گردد و پیام های مهم در این خصوص به ۹ میلیون شاگرد و از آن طریق به تمام مردم رسانیده شوند. وی گفت، با این کار میتوانیم در جلوگیری از امراض، تقویت صحت و بهبود وضعیت اقتصادی خانواده ها سهم مهم داشته باشیم. به گفته آقای شینواری شستن دستها قبل از صرف غذا و بعد از رفع حاجت به ویژه در بین اطفال نهایت ضروری بوده و باید در بین آنها ترویج گردد تا از مصاب شدن به آمراض مختلف وقایه شوند.محب الله خیر سرپرست معینیت عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه نقش شستن دستها را در جلوگیری از امراض ساری و تنفسی و همچنان امراض فلج و اسهالات نهایت مهم خوانده تاکید نمود که این عمل در کاهش مرگ و میر اطفال کمتر از سن پنج سال رول اساسی دارد. داکتر نصرت الله رسا نماینده موسسه یونیسف در صحبت های خود یادآور شد که یونیسف در رایج ساختن کلتور شستن دستها با صابون، دسترسی شاگردان به آب صحی و فراهم آوری سهولت ها در شستن دستها در مکاتب با وزارت معارف همکاری میکند. قابل یاد آوریست که روز جهانی شستن دستها با صابون از سال ۲۰۰۸ در نقاط مختلف جهان بمنظور جلوگیری از امراض مهلک ساری و حفظ الصحه تجلیل میشود.

## سرمقاله:

## علم او پوهه د انسان...

انسانان دژوندانه اصلی مسیر ته را ګرځوي استاد الفت وايي:

**چې عمل او فکر یو له بله بیل شي**
**عمل خوار شي فکر ورکه سمه لار کړي**

درنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو! تاسوته څرګنده ده چې دهیوادونو او ولسونو د پرمختګ، ودې، سوکالۍ او نیکمرغۍ راز دخلکو دپرمختګ په راوېښیدو او دعلم او پوهې دکچې په لوړلوکي نغښتی دی نو اوس چې د هیواد هر وګړي ته د زده کړې لازمې اسانتیاوې برابرې شوې دي پکار ده چې خپل قیمتي وخت تر بل هر څه نه زیات د پوهې ترلاسه کولو ته وقف کړي، کره او پر ځای خبره دا ده چې زده کړه دخپل ځان، خلکو او هیواد لپاره وکړئ داسې مفکوره هیڅ کله له ځان سره مه لرئ چې ګواکې زه زده کړه کوم تر څو په راتلونکې کې د پیسو او مال خاوند شم دا هیواد او خلک په موږ او تاسو حق لري تر څو هغه څه مو چې د زده کړې په دوران کې په وړیا ډول زده کړي دي د هغه حق ادا او پرځای کړو زموږ لپاره چې کوم ښوونکي درس راکړی او هغه ځای چې موږ د ښوونځي په نوم لوست په کې کړی او کوم امکانات او اسانتیاوې چې موږ ته په وړیا ډول برابرې شوې دي دهغه حق د ادا کولو لپاره هم موږ باید متې راونغاړو تر څو مو هم د ځان هم د هیوادوالو او هم د هیواد لپاره پوره کار کړی وي د پوهنې وزارت د نوې رهبري هڅوته په کتو سره ډېر زیات هیله من کیږوچې ډیر ژر به په ښوونیز نظام کې د پام وړ پرمختګونه را منځته شي هغه نوښتونه چې د ښوونیز نصاب په با کیفیته کیدو او د ښوونیز نظام په پیاوړتیا کې رامنځته کیږي په ریښتیا هم نوې هیلې راټوکوي او هغه وخت لرې نه ده چې موږ به یو غوړیدلی او پرمختللی ښوونیزنظام ولرو.

## دکتر محمد میرویس بلخی با اعضای نهادهای جامعه مدنی در کابل دیدار کرد

دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با اعضای نهادهای جامعه مدنی در کابل دیدارکرد.

دکتر بلخی در این دیدار مسوولیت پذیری جوانانِ عضو در این نهادها را در برابر سکتور معارفِ کشور قابل ستایش دانست و برهم‌صدایی شهروندان و اعضای نهادهای مدنی با وزارت معارف در راه تطبیق برنامه‌های توسعه‌ای این وزارت تاکید ورزید.آقای بلخی به طور فشرده پیشرفتِ برنامه‌های اصلاحی نهایی شده و در حالِ تطبیق وزارت معارف را در محضر اعضای جامعه مدنی ارایه کرد و گفت:" در حال حاضر بیشترین تمرکز وزارت معارف روی تطبیق اصلاحات و بهبود کیفیت معارف است".

دکتر بلخی با اشاره به وضعیت معیشتی معلمین گفت که طرح مسکن قابل استطاعت نهایی شده و روی میز جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور قرار دارد، به همین گونه تجدید نصاب تعلیمی تحت کار است و نیز در بخش مبارزه با فساد در این وزارت گام‌های عملی برداشته شده است.



سرپرست وزارت معارف در پاسخ به انتقاد اعضای نهادهای مدنی مبنی بر کمبود زنان در سطح رهبری معارف و نیز مرکزی بودن صلاحیت‌ها گفت: تفویض صلاحیت‌ها به ریاست‌های معارف ولایتی آغاز شده و در سطوح رهبری وزارت بانوان شایسته به کار گماشته شده اند. اعضای نهادهای مدنی که شمارشان به ۶۰ تن می رسید در این دیدار مشکلات مربوط به کمبود معاشات معلمین، عدم تهیه سرپناه برای آموزگاران و نیز موجودیت مشکلات در مسیر رفت و برگشت معلمین را به عنوان چالش با رهبری وزارت معارف شریک ساختند. سرپرست وزارت معارف تاکید کرد که متعهد است تا به کوچکترین مشکل معلمین در کشور رسیدگی کند.

## افتتاح انستیتوت اداره و حسابداری در زابل

تعمیر انستیتوت اداره و حسابداری در شهر قلات مرکز ولایت زابل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

این تعمیر در دوطبقه اعمار شده و دارای ۱۶ صنف درسی و اداری، اتاق های کمپیوتر، لابراتوار و مجهز به سایر تجهیزات و سهولت های درسی می باشد.

تعمیر انستیتوت متذکره در جریان ۱۸ ماه کاری اعمار شده و مبلغ ۱۲،۱۲ میلیون افغانی هزینه برداشته است که از بودجه وزارت معارف تمویل گردیده است. رحمت الله یارمل والی زابل افتتاح این انستیتوت را درجهت ارتقای سطح مسلکی متعلمان یک گام مؤثر دانسته و تعهد سپرد که در سال و دهه معارف به خاطر انکشاف و بهبود وضعیت نظام آموزشی در این ولایت تلاش بی دریغ می نماید.

نصرالله ذاهد رئیس معارف ولایت زابل هم اعمار تعمیر این انستیتوت را نتیجه اهتمام رهبری وزارت معارف در چوکات پلان های انکشاف متوازن معارف این وزارت دانسته و از محصلان خواست تا در حفظ و نگهداشت تعمیر و تجهیزات آن توجه بیشتر داشته باشند.

حاجی عطاجان حقبیان رئیس شورای ولایتی ولایت یاد شده نیز در پیوند به موضوع صحبت نموده و به نماینده گی از مردم شریف این ولایت، آماده گی هر گونه همکاری را با معارف وعده سپردند.

## د پوهنې د ستراتیژیک پلان پرمختګونه وارزول شول

د پوهنې وزارت ستراتیژیک پلان د رهبري کمېټې غونډه د وزارت د عمومي زده کړو مرستیال ښاغلي ډاکټر محمد ابراهیم شینواري په مشرۍ جوړه شوه.



دغه غونډه چې د امریکا د پرمختیايي ادارې، یونیسف، یونسکو، سویډن کمېټې، بریتانیا، سویس او د وزارت د داخلي ادارو د استازو په ګډون جوړه شوې وه، د پوهنې د ستراتیژیک پلان پر پرمختګونو او راتلونکو اقداماتو باندې هر اړخیز بحث او خبرې اترې وشوې. د وزارت عمومي زده کړو مرستیال ښاغلي محمد ابراهیم شینواري هیله وښوده، چې د نړیوالو همکارانو په مرسته او د پوهنې د ستراتیژیک پلان له بشپړ پلي کېدو سره به د هېواد د ښوونیز نظام په ډېرى برخو کې شته ستونزې او مشکلات تر ډېره بریده حل شي. په یاده غونډه کې د مرسته کوونکو موسسو استازو هم د پوهنې د ستراتیژیک پلان په پلي کېدو کې د پوهنې وزارت هڅې وستایلې او په دې برخه کې یې د هر ډول مرستې او همکارۍ

## کندهار کې ۶۰ بابه ښوونځیو ته نوې ودانۍ جوړېږي

له پوهنې د ملاتړ کال په ترځ کې د کندهار ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۶۰ بابه ښوونځیو ته نوې او عصري ودانۍ جوړېږي. د یاد ولایت د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون چې په ډنډ ولسوالۍ کې د شهید عبدالحی دیني مدرسې د نوې ودانۍ د پرانېستې په تړاو جوړو شویو مراسمو کې خبرې کولې د زده کوونکو لپاره د خوندي درسي چاپېریال پر برابرولو د ټینګار ترڅنګ یادونه وکړه، چې سږ کال به په دې ولایت کې د پوهنې وزارت د ځانګړې پاملرنې له مخې د ۶۰ بابه ښوونځیو لپاره د نویو ودانیو د جوړېدو چارې پیل شي. نوموړي زیاته کړه، چې د یادو هڅو او د ولس د غوښتنو پر اساس یې ډنډ ولسوالۍ کې د شهید عبدالحی دیني مدرسې ته د یو کال په ترځ کې په پاخه او اساسي ډول نوې ودانۍ جوړه کړې، چې ۸ درسي ټولګي، د احاطې دېوال او نورې اړوندې ټولې درسي آسانتیاوې لري. د مدرسې پر نوې ودانۍ د پوهنې وزارت د پرمختیايي بودیجې شاوخوا ۱۱،۴ میلیونه افغانۍ لګېدلي دي.

د کندهار د پوهنې رییس دغه راز وویل، چې د یادې مدرسې زده کوونکو تر دې وړاندې د ښار په یوه کرایي کور کې زده کړې کولې، چې د نوې ودانۍ له جوړېدو او پرانېستو سره ورته د زده کړو خوندي درسي چاپېریال برابر شوی او له بلې اړخه د ډنډ ولسوالۍ ماشومانو ته په خپله سیمه کې د دیني زده کړو زمینه هم برابره شوې ده.

بقیه صفحه اول

## پیام وزارت معارف در...

یک هفته به منظور همکاری با این پروسهء ملی رخصت نمود و همچنان هزاران تن را منحیث کارمندان همکار انتخاباتی به کمیسیون محترم انتخابات معرفی کرد. کار و زحمت این همکاران ما بود که پروسهء انتخابات موفقانه سپری گردیده و میلیونها هموطن ما رای شان را برای کاندیدان مورد نظر شان در صندوق ها ریختند.

در عین حال وزارت معارف بر اساس قانون و طبق تعهدنامهء که بین ما و کمیسیون محترم انتخابات به امضا رسیده هیچ نوع مداخلهء کاری را در امور انتخابات نداشته، همکاران ما نیز که با کمیسیون موظف شده بودند، منحیث کارمندان موقت کمیسیون در اختیار آنها بوده و هر نوع استفاده و مدیریت شان مربوط کمیسیون انتخابات بوده است.

به امید روزی که مانند سایر ملتهای پیشرفتهء جهان، انتخابات بدون دغدغه های جنگ، نا امنی و مداخله داشته و به یک کشور متکی به خود، پیشرفته و آباد مبدل گردیم.

## در چمن

در چمن روییده گُل بهر پذیرایی تو
رشک دارد گُل به دل از حُسن وزیبایی تو
تا به گُلزار آمدی غُنچه شکفته از خوشی
سرو حیران شد زطنازی و رعنایی تو
چون شمیم زلف ازرُخساریکسو کرده یی
شد منور دیده ها از حکمت افزایی تو
تو خرامان مینهی از ناز در سبزه قدم
باغ میبالد ازین طرز شگوفایی تو
من به جمع عاشقان نام ات نمی آرم بلب
چون نمی خواهم شود موجب به رسوایی تو
عقل میگوید که در جانان نمی بینم وفا
لیک دل هردم تپد بهر هوا خواهی تو
بستر سُرخ شفق اندر غروب آفتاب
از حسادت در گرفت از لعل خُرما یی تو
گفته بودی یک شب آیی توبه بالین حبیب
تو بیا تا جان کنم قربان به سر راهی تو

ارسالی: عزیر

## ځیرک

نه له چانه کړم ګیله نه ګیله مند یم
زه مې خپلو بدو کړو ته فکر مند یم
که هرڅه په ما راځي دا مې عمل دی
د بل چا په حق خوړو کې قدرت مند یم
خپل عیبونه را ته نه ښکاري دوستانو
د بل عیب ته ښه ځیرک او لوی هُشمند یم
نیک عمل مې زره بین کې نه ښکاریږي
په بدیو کې بدرنګه ښه په خوند یم
بیا ګیله کړم چې خالقه څه مې کړي
نا خبره له خپل عیبه عیب مند یم
اکبري الله عادل دی عدالت کړي
که سم نه کړم خپل عمل مدام بې خوند یم

رالیږونکې: طاهره

## شکوه

بس که عمریست من عادت به جفایت کردم
هر چی را لطف نمودی تو رعایت کردم
تو سفر کردی و من نقش قدم های تو را
سجده بنمودم و از دور نگا یت کردم
گر لبت جام می و روی تورا ماه گفتم
آن چی در چشم من افتاد روایت کردم
دل زمن بُردی و من با دل سودا زده ام
جان بی ارزش خودرا بفدایت کردم
دیگر احساس به بیگانگی از من نکند
ازسگ کوی تو از بس که حمایت کردم
نه من آن ام که کنم شکوه ز توتا به ابد
از جفای تو فقط با تو حکایت کردم
شعر تسکین دل است و طرب آرد بوجود
زین سبب وصف رُخ و قد رسایت کردم
من حبیب تو ام و باش حبیب ام شب وصل
من که یک عمر توقع به وفایت کردم

ارسالی:حمید

## مسجد جامی پل خشتی

مسجد «پل خشتی» که منار و گنبد آن از گوشه و کنار شهر کابل قابل دید بوده و آواز موذن ندای اذان محمدی را ۵ بار به گوش ساکنین شهر می‌رساند، تاریخ بس طولانی دارد .مسجد جامع پُل خشتی یا مسجد جامع لب دریا، بعد از مسجد «شاه دو شمشیره» دومین مسجد بزرگ کابل است.مسجد پل خشتی کابل درسال ۱۳۰۳ هجری قمری که بنام «مسجد نورالاسلام» مشهور بود ساخته شده است مسجد مذکور از سنگ، خشت پخته، گچ، آهن گل و چوب ساخته شده و دارای کمان، رواق و گنبدهای بسیار زیبایی بوده که در کنار خود عمارت گنبدی بلندی قرار داشت که بر اثر جنگ‌های اخیر ویران شده است.مسجد پل خشتی موسوم به «پل خشتی» در نزدیکی دریای کابل از زمان‌های قدیم وجود داشت، اما به شکل مسجد جامع در سال ۱۰۶۹ هجری قمری بنای جدید آن ساخته شد.تعمیر اساسی این مسجد در زمان سلطنت «تیمورشاه درانی» در سال ۱۱۸۷ هجری قمری آغاز شدبعد ازمرگ «تیمورشاه» پسرش «شاه زمان» که یکی از مقتدرترین و از ثروتمندترین پادشاهان افغانستان بود نه تنها مسجد پل خشتی، بلکه مسجد جامع چوب فروشی یا نورالاسلام را در سال ۱۲۱۳ هجری قمری تکمیل کرد مسجد جامع پل خشتی در زمان «امیر عبدالرحمن خان» توسعه یافت و منزل شخصی سردار «عطاالله» نیز ضمیمه این مسجد شد.در سال ۱۳۴۲ از طرف دولت مطابق مهندسی جدید به طور اساسی گنبد و مناره‌های آن ساخته و صحن مسجد سنگ فرش شد .

ارسالی: فرملی

## غوره ویناوې

۱ که په دنیا کې کامیابي غواړې د مور او پلار خدمت کوه
۲ خاموشي د غصې غوره علاج ده
۳ حیا د ښځې زیور دی
۴ چا چې علم حاصل نکړ هغه په اصل کې یتیم دی
۵ چپ پاتې شه یا داسې خبرې وکړه چې د چپ پاتې کیدو څخه غوره وي
۶ هره ستونزه د انسان د همت امتحان اخلي
۷ انسان په حسد خپله دنیا، آخرت، او صحت خرابوي د نورو خلکو هیڅ نشي کولای
۸ کم خوراک کوه او ډیر علم حاصل کړه
۹ په عبادت کې دزړه حفاظت کوه او په مجلس کې د ژبې
۱۰ څوک چې په خپل قسمت باندې قناعت کوي هغه غني دی

رالیږونکې: دنیا

## درد

یاغي درد او د پرهر سره اوسیږم
د شپو غیږ کې د سحر سره اوسیږم
بغاوت مې ددنیا له ژونده کړی
په خلوت کې د کوثر سره اوسیږم
نوک او ورځ له بله کله جلا کیږي
لکه واورې د سپین غر سره اوسیږم
ما خو هر څه له جانانه سپیلني کړه
اوس ملنګ تنها خپل ور سره اوسیږم
له خپل کلي او رواج وتلی نشم
مات منګي په خیر ګودر سره اوسیږم
تا ویل ژوند تولې سکروټې دي وارثه
شوم تنهاکې د مجمر سره اوسیږم

رالیږونکې: ولوله

## ښوونکي

ای غیرتي او منور ښوونکیه
مورړ ته تر ټولو معتبر ښوونکیه
ستا د هنر وړانګې خپرې په نړۍ
د صفت وړ یې لکه لمر ښوونکیه
تورو تیارو کې روښنایي راولې
هر وخت یې زېرې دسحر ښوونکیه
تل دې له ژبې مرغلرې اوري
پروت دی پرهر ځای دې اثر ښوونکیه
تادې هیواد ته معماران روزلي
هم انجنیر، مدیر ډاکټر ښوونکیه
له مور او پلار وروسته دعا کې راځې
یې رهنما د هر ټبر ښوونکیه
(عبیدي)ستایي ستا لوړشان په شعر کې
په هر دریځ په هر ممبر ښوونکیه

رالیږونکې: فواد

## کاروان

سپین غر

اوس مې لاسونه اوږده کړي دنظرغیږې ته
ورو ورو به رسم دښکلا دسمندرغیږې ته

زه په سپځلي زړه دکرکې تورې شپې ماتوم
داسې وعده مې ده ورکړې دباورغیږې ته

په دې پوهیږم چې باورلري سمبال به یې کړي
زړې دزروچې تویږي دزرګرغیږې ته

دوخت شیطان غواړي ترخپلې موخې ورسیږي
دشیطانت څراغ چې وړي دجادوګرغیږې ته

توري په اوښ دتخیل ځي اومزل لنډوي
کاروان کاروان سندرې بیا وړي د سپین غر غیږې ته

## ویژه گی های یک معلم خوب

۱ - هدف دارد
۲ – منتظر موفقیت همه شاگردان خود است
۴ – برای ارضای نیاز شاگردان تمایل به تغییر و هماهنگی دارد
۵ – از ندانستن ناراحت نمیشود
۶ – به کار شان فکر می کند
۷ – از مودل های مختلف یاد می گیرد
۸ – از کار و آموزش شاگردان لذت میبرد
۹ – سه چیز برای یاد دادن دارند ۱ سادگی ۲ صبر ۳ رحم

ارسالی:حسیبا

Weekly
Marif
Newspaper
Established 2002, Issue No 241, Month – October 2018
Ministry of Education Cultural and Social Issue

## د پوهنې وزارت د کارکوونکو او ښوونکو معاشونه د مبایل له لارې ورکول کېږي

پوهنې وزارت د ښوونکو لپاره د لازمو اسانتیاوو د برابرولو لپاره له مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت سره د مبایل له لارې د معاشونو د ورکړې په لارې د معاشونو ورکړه په معارف کې د معتمدۍ سُنتي سیستم ته د پای ټکی ږدي او په دې برخه کې د بې ځایه اخاذیو پر مخنیوي سربېره پر خپل



تړاو هوکړه لیک لاسلیک کړ.
د پوهنې سرپرست وزیر ښاغلي ډاکټر محمد میرویس بلخي، چې په دې تړاو یې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې یوې خبري غونډې ته خبرې کولې، د مبایل له لارې ښوونکو ته د معاشونو ورکړه د ښوونکو لپاره د لازمو اسانتیاوو د برابرولو په برخه کې یو بې ساری قدم وباله او ددې سیستم پلي کول یې د پوهنیز نظام دعصری کولو اوشفافیت په لور یو ارزښتمن گام په کوته کړ. ښاغلي بلخي وویل، چې د بانکي سیستم ترڅنګ د مبایل له وخت د معاشونو د ورکړې تضمین هم کوي. د نوموړي په خبره، چې دغه سیستم خورا شفاف دی او له پوهنې د ملاتړ کال او لسیزې په ترڅ کې د پیل شویو اصلاحي پروګرامونو مهمه برخه جوړوي. د پوهنې سرپرست وزیر زیاتوي:« څو میاشتې وړاندې مو په امتحاني ډول دغه سیستم په ننګرهار، کندهار او پروان ولایتونو کې پیل کړ، چې په ترڅ کې یې شاوخوا ۲۰۸۰۰ د پوهنې کارکوونکي او ښوونکي بایومټریک شوي او عملاً ۴۱۳۰ تنه ښوونکي د یاد سیستم له لارې معاشونه اخلي.» د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر شهزاد آریوبي د یاد هوکړه لیک د لاسلیک پر مهال وویل، چې ددغه تړون پر اساس به لومړی په کابل کې د افغان بیسیم مخابراتي شرکت په همکارۍ ۴۳ زره د پوهنې کارکوونکي او ښوونکي بایومټریک شي او په دویم پړاو کې به د روشن مخابراتي شرکت په همکارۍ په هرات، بلخ، پکتیا، خوست، تخار، بدخشان او لغمان ولایتونو کې ۷۶ زره د پوهنې کارکوونکي او ښوونکي بایومټریك او د مبایل له لارې به پر خپل وخت معاشونه ترلاسه کړي.
د ښاغلي آریوبي په وینا، چې د پوهنې وزارت د پاتې ۱۲۰ زره کارکوونکو او ښوونکو لپاره هم هڅې روانې دي، چې په یاد سیستم کې شامل او له ګټو او ښېګڼو یې برخمن شي.
د یادولو وړ ده، چې د مبایل له لارې د معاشونو د ورکړې سیستم کې تر نوم لیکنې او بایومټریک وروسته د هرې میاشتې په پای کې د راجستر شویو کسانو مبایل ته د معاش د رسېدو پیغام ورځي او له هغه وروسته دوی کولای شي پر خپل وخت او په ډېرې آسانۍ د افغان بیسیم او روشن مخابراتي شبکو له ځانګو او دغه راز له بانکونو څخه خپل معاشونه ترلاسه کړي.

## دکتر محمد میرویس بلخی با اعضای اتحادیه مکاتب خصوصی در کابل دیدار کرد

دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با نمایندگان اتحادیه‌های مکاتب خصوصی در کابل دیدار کرد. نمایندگان اتحادیه‌های مکاتب خصوصی در این دیدار مشکلات و پیشنهادات شان را با سرپرست وزارت معارف شریک ساختند.دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با تاکید بر جایگاه مؤثر مراکز تعلیمی خصوصی در کشوربر حل مشکلات مکاتب خصوصی تاکید ورزید و به مسوولان مربوط هدایت داد تا در راستای رسیدگی به چالش‌ها فرا راه کار مکاتب خصوصی تلاش‌های خود را سرعت بخشند.در این دیدار داوود بابر رئیس اتحادیه مکاتب خصوصی در شهر کابل و حضرت خلیل رئیس اتحادیه مکاتب خصوصی در ولایت کابل به نمایندگی از حاضران سخن گفتند و مشکلات و پیشنهادات خود را با رهبری وزارت معارف در میان گذاشتند.برگزاری تورنمنت‌های مشترک ورزشی میان مکاتب دولتی و خصوصی، ایجاد میدان های ورزشی در صحن مکاتب دولتی با هزینه گزاری از سوی مکاتب خصوصی، مجهز نمودن پارک های معارف با امکانات تفریحی_آموزشی، برگزاری نمایشگاه‌های مشترک فرهنگی میان مکاتب دولتی و خصوصی و نیز اشتراک دانش آموزان



مکاتب دولتی و خصوصی به گونه مشترک در برنامه‌های آموزشی بیرون مرزی از میان پیشنهادات نمایندگان اتحادیه‌های مکاتب خصوصی به رهبری وزارت معارف بود.سرپرست وزارت معارف در این دیدار به برخی از پیشنهادات اعضای اتحادیه‌های مکاتب خصوصی لبیک گفت و تاکید ورزید که در زمینه عملی شدن این پیشنهادها مسولان اتحادیه‌های مکاتب خصوصی را همکاری می کند.سرپرست وزارت معارف به مسؤولان مربوطه وزارت هدایت داد تا در کنار مکاتب دولتی با مکاتب خصوصی به عنوان بازوی معارف افغانستان همکاری همه جانبه نمایند.سرپرست وزارت معارف تعهد سپرد که نشست‌ها با مسوولان اتحادیه‌های مکاتب خصوصی برای ایجاد هم آهنگی بیشتر میان دولت و سکتور خصوصی و نیز ایجاد سهولت ها در برابر فعالیت مکاتب خصوصی در کشور به شکل مستمر ادامه خواهد داشت.

## ۱۰ تفاهمنامه همکاری میان وزارت معارف ومؤسسات داخلی و خارجی امضا شد

۱۰ تفاهمنامه همکاری میان وزارت معارف با مؤسسات داخلی و خارجی به ارزش چهار میلیون و ۵۸۴ هزار دالر آمریکایی به امضا رسید.
دکترمحمد میرویس بلخی سرپرست



وزارت معارف تفاهمنامه‌های امضا شده را در راستای حل مهم‌ترین معضلات معارف کشور توصیف کرد.
رهبری وزارت معارف با تاکید بر اولویت‌بندی مشکلات معارف، نسبت به مرفوع ساختن آنها با همکاری حامیان مالی داخلی و خارجی ابراز امیدواری کرد.
دکتر بلخی ایجاد صنوف تعلیمات تسریعی برای بازماندگان از تعلیم و مهاجرین عودت کننده به کشور، اعمار مکاتب و ایجاد صنوف تعلیمات قبل از مکتب و سوادآموزی را از اولویت‌های طرفین در انعقاد تفاهمنامه‌ها توصیف کرد.
دکتر بلخی در پایان گفت: وزارت معارف با عنوان نظارت کننده اصلی مؤظف است تمامی این تفاهمنامه‌ها را از ابتدا تا پایان آن بررسی و نظارت کند.
۱. طبق قرار داد با موسسه هیئت ناروی برای افغانستان(NRC)مکلف است که با ایجاد ۱۱۳ باب صنوف تعلیمات تسریعی و اضطراری و تهیه خیمه و بسته‌های آموزشی برای شاگردان مکاتب ولایات فاریاب، کندز، ننگرهار و ارزگان در مدت یکسال به ارزش۱،۳۳۹،۷۹۰ دالر آمریکایی به همین ترتیب موسسه نامبرده با ایجاد۱۰ باب صنوف تعلیمات تسریعی برای عودت کنندگان و تهیه خیمه و بسته‌های آموزشی برای شاگردان مکاتب ولایت هرات در مدت یکسال به ارزش ۴۹۹،۷۵۴ دالر آمریکایی، موسسه انجمن فدراسیون ملی یونسکو جاپان (NFUAJ-K)ایجاد ۲۵ باب صنوف سوادآموزی و ۱۷ باب صنف حرفوی و اعمار یک باب مرکز آموزشی محلی و مراقبت مراکز آموزش محلی در ولایات کابل، پروان و بامیان به ارزش۲۳۰،۰۰۰ دالر آمریکایی، موسسه اطفال جنگ زده انگلستان(War Child UK)ایجاد ۱۵ باب صنف تعلیمات قبل از مکتب، ۷ باب صنف تعلیمات تسریعی، یک باب صنف آموزش مهارت‌های کمپیوتر و ۱۵ باب صنف سوادآموزی در ولایت کابل به ارزش۲۰۰،۰۰۰ یورو، موسسه کمیته بین المللی نجات(ICR)با اعمار یک باب مکتب ۲۰ صنفی با تمام ملحقات آن در ولایت ننگرهار، موسسه کمک های آسایش جهانی(CAI)با اعمار یک باب مکتب ۸ صنفی با تمام ملحقات آن در ولایت بلخ به ارزش ۱۷۷،۴۰۰ دالر آمریکایی، موسسه نهاد تحقیقاتی حقوق زنان و اطفال و موسسه دیده بان حقوق اساسی افغانستان، انجام تحقیقات درباره تعلیم و تربیت و علت ترک تحصیل دختران و دادخواهی برای جذب معلمین اناث و کم کردن نرخ محرومیت دختران درولایات کابل، پروان، کندهار، ننگرهار، بلخ، لغمان، کنر، پکتیا و بدخشان به ارزش۲۷،۱۴۹،۶۰۳ افغانی موسسه کانادایی برای اطفال متاثر از جنگ( War Child Canada) با ایجاد ۵۰ باب صنف درسی در مکاتب رسمی برای ۴۵۰۰ تن و ایجاد ۷۰ باب صنف آموزش محلی و تسریعی برای ۲۱۰۰ شاگرد ذکور و اناث ولایت کابل به ارزش ۸۶۸،۳۳۳ دالر آمریکایی، موسسه گروه تحقیق و دفاع از حقوق بشر(HRRAC)نظارت از مکاتب با استفاده از کارت نمره دهی جامعه ولایات کابل و خوست به ارزش۴،۸۲۷ دالر آمریکایی و به همین ترتیب موسسه فرهنگ و هنر آسیا با ایجاد کورس‌های تقویتی و ظرفیت سازی برای ۲۰۰ تن ازشاگردان طبقه اناث صنوف هشتم الی دوازدهم ولایت کابل به صورت رضاکارانه سهولت های را بوجود آورد.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت